مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۷/۰۹

# موږ او نړۍ

د پراخه فضا په زړه کې ، په ډیر حیرت سره ، د تحقیق او څیړنو فضایي بیړۍ د بشر د راتلونکو آرمانونو د تحقق د پاره په ډیره چټکې د یوې نوې دنیاګۍ د پیداکولو د پاره هڅې کوی ،او د دې پراخه فضا په لمن کې او په درنه چوپه چوپتیا کې روانه ده ، په دې تکل چې د بشر د راتلونکې د پاره د نوی ژوند او د پراخه ژوند امکانات برابر کړي . د بیړۍ چلونکي څو دردمن انسانان چې د فضایي تخنیک اوپه نورو علومو سمبال دي ، د نوی ماحول په پلټني کې ، په خورا ژور سوچ سره ،د خپل هدف په لور مخ په وړاندې روان دي ،او دا د دې دنیایي مدنیت د عظمت او پر مختګ نښه ده،

خو دلته په ځمکه کې لا تر اوسه هم داسې ذهنیتونه شته دي ،چې د مغارو د عصر خیالونه په سر کې لري ،د نړۍ د دومره پرمختګ سره سره زمونږ ښونځي سیځل کیږي ،جنکې د سبق څخه منع کیږي چې باید جنکۍ سبق و نه وایي ،او ځان ته طالبالعلمان هم وایی ،خو د دوی د نادانۍ بله رسوایی هم دا ده ،چې که د دوی زنانه وو ته کومه مریضي پیښه شي ، نو بیا وایي چې زمونږ ښځې او زنانه دې زنانه ډاکتراني وګوري ، نارینه دې نه ګوري یا معاینه یې کړي، د دې احمق خو بیا خپله فلسفه د یاده وتلې وي .دا د هر روښان ضمیره په ذهن کې دا راګرځوی چې ورته ووایي : احمقه! نادانه !او د خپل حال او ماحوله بې خبره ! ته خو یو وار زنانه وو ته اجازه ورکړه چې علم زده کړي او ډاکتراني شي او بیا ستاسو د زنانه وو علاج وکړي.

ای د علم طالـــــــــبه ! یــو پراخ نظـــر پیدا کړه
چې دا ستونزی نه حـل کیږي ، په دې وچه مــلایي

طالبي علــم دي پریږده ، جـهاني علـــــم زده کـړه
چې حکومت او ســیاست غواړي ، فـــهم و رسایي

په ستره جامو کې ، کښېنه په یو ګوټ کې د جومات
د سینګار دپاره کش کړه ، په خپل ســترګو ســلایي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ